# ارشادات امام احمد رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

پښتو



پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوت اسلامی)
ترجمو:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوت اسلامی)

## د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج۱ص۴۰دار الفکر بيروت)

طالب غم مدينه بقيع ومغفرت

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

د رسالے نوم: ارشادات امام احمد رضا رَحْمَةُاللهِعَلَيْه

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

**مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته**

**کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ**

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼرې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلې وي نو مَكْتَبَةُالْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# ارشادات امام احمد رضا رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ

د شیخِ طریقت اَمیرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَکَاتُھُمُ الۡعَالِیَه د بیان دا رِساله "ارشادات امام احمد رضا رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ" په اردو ژبه کښي لیکلي شوي ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دي رسالے په آسانه پښتو ژبه کښي د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دي ترجمه کښي څه غلطي یا کمے، زیاتے اومومئ نو ستاسو په خدمت کښي عرض دے چه مجلس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش:

## مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# ارشادات امام احمد رضا رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه

**دعائے عطّار:** یا ربّ کریم! چي څوك د 24 صفحو دا رساله "ارشادات امام احمد رضا رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه" اولولي یا ئې واوري نو هغه د امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د فیض نه مالا مال کړې او بے حسابه ئې جَنَّتُ الفِردوس ته داخل کړې.

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

د اعلٰی حضرت والدِ محترم علامه مولانا نقـي علي خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: يو دُرُود (شريف) دُنيا و مَا فِيْهَا (يعني د دُنيا او څه چې په دې دُنيا کښې دې د دې ټولو) نه بهتر دے او د دواړه جهانونو د پاره کافـي دے. د دې ثواب د زرګونو کاله د عبادت د ثواب نه زيات دے او د دې مرتبه د اکثر عباداتِ بدنيه، ماليه او قوليه (يعني بدني، مالي او زباني عباداتو) نه اعلٰى ده او دا فضيلت و عنايت په دې اُمَّت باندې د خوږ آقا مدني مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وجه دے ځکې مونږه کله د دې عنايتونو او بُزُرګئ حقدار وو.

(سرور القلوب فی ذِکر المحبوب، ص 340 بتغیرٍ و تسهیلٍ)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# تعارف اعلیٰ حضرت

سرکارِ اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د بریلي شریف په محله جسولي کښې په 10شوالُ المُکَرَّم 1272ھ د خیالي په ورځ ماسپښین بمطابق 14 جون 1856ء کښې پیدا شو، (حیات اعلیٰ حضرت ج1، ص58) د هغوئي مبارك نوم "محمد" دے او د هغوئي نیکه به په احمد رضا رابللو او هم په دې نوم مشهور شو. هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه تقریباً په 50 علومو لیکل کړي دي او ډیر په علمي شان سره ئې کتابونه لیکلي دي، هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به اکثر په کتابونو لیکلو کښې مصروفه وو. د پینځَو لمُونځو په وخت به جمات ته حاضریدلو او همیشه به ئې د جَمعې لمُونځ ادا کولو، هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په مختلفو عنواناتو تقریباً زر کتابونه لیکلي دي. (تذکرہ امام احمد رضا، ص16)

اے عاشقانِ امام احمد رضا! د امامِ اهلِ سُنَّت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مختلف ارشاداتِ مبارَکه اولولئ او د علم دِین خزانه حاصله کړئ، دا ارشادات د امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د مختلفو کتابونو نه اخستې شوي دي. د وَلِیٔ کامِل، شاه احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرامین به ستاسو د ژوند په مختلفو شعبو کښې ډیر په کار راتلونکي "رَهنُما اُصُول" ثابت شي. اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خپل علمي شان او د هغه وخت اردو په اعتبار سره دا ارشادات په اسانو الفاظو کښې د پیش کولو د پاره د موقع په مناسبَت سره بریکټ لګولے شوي دي.

الله کریم دِ مونږ ته د امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په ارشاداتو باندې د عمل کولو توفیق را عطا کړي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِین صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د الله د علم شان

(1) بیشکه حق دا دے چې د ټولو انبياء و مرسلين او ملائکه **مُقَرَّبِيْن و اَوَّلِين و آخِرين** مجموعي عُلوم (يعني د ټولو انبياؤ، رسولانو، مقربه فرښتو وړاندې وروسته علم) د الله پاك د علم سره هغه نِسبَت نه شي لرلے کوم چې د يو څاڅکي د کروړمې حصّې د کروړم سمندر سره دے. (فتاوٰی رضويه ج14، ص377)

## د آخري نبـي شان

(2) څه دولت، څه نِعمَت، څه عِزَّت کوم چې په حقيقت کښې دولت و عِزَّت دے، داسې نه دي چې الله پاك بل ته ورکړے وي او حُضُورِ اقدس صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ئې عطا کړے نه وي. چا ته چې څه عطا شوي دي يا به عطا کيږي په دُنيا او آخِرت کښې، هغه ټول د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په برکت دي، د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په طفيل دي، د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په لاس سره عطا شو. (فتاوٰی رضويه ج29، ص93)

(3) د اُمَّت ټول اقوال و افعال او اعمال هره ورځ دوه وخته د سَيِّدُ الاَبرار، حُضُورِ اقدس صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې پيش کيږي. (فتاوٰی رضويه ج29، ص568)

(4) د معصوم نبـي محمد مصطفٰی (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) (اُمَّتـي اُمَّتـي وئيل)" دا هغه اثر لرونکے آواز دے کوم چې هر وخت د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ژبه مبارکه وو، کله کله په مونږ کښې د يو غافل غوږ ته را رسي، روح هغه پيژني.

(فتاوٰی رضويه ج30، ص712)

[د دې وضاحت دا دے چې د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ژبه مبارکه به هر وخت رَبِّ هَبۡ لِیۡ اُمَّتِیۡ جاري وو يعنې اے ربه زما اُمَّتيان اوبخښې، دا آواز به خلقو اوريدلو.کاش چې مونږه هم د دې آواز احساس کولے چې زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خومره د خپل اُمَّت د بخښنې په فِکر کښې دے او مونږه خومره د خپل خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره خومره مينه ساتو، دا احساس روح ته کيږي]

(5) مجلس ميلاد پاك، د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر شريف دے او د "حُضُور"صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر د "اللّٰه پاك" ذِکر دے او د اللّٰه پاك د ذِکر نه منع کول د "شيطان کار" دے. (فتاوٰی رضويه ج14، ص668)

(6) حُضُورِ اقدس صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يا بل نبـي يا ولي ته "ثواب بخښل وئيل" بے ادبي ده، بخښل د مشر نه کشر طرف ته وي، بلکه نذر کول يا هَدِيَّه (يعنې تُحفه) کول دِ وائي.

(فتاوٰی رضويه ج26، ص609)

(7) هدايت خو د نبِيِّ اُمِّي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په منلو موقوف دے [يعنې په خوږ نبـی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِيمان راوړل ضروري دي] څوك چې خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه مني هغه ته هدايت نشته او چې کله هدايت نه وي اِيمان چرته؟ [يعنې اِيمان راوړلو نه بغير هدايت نه شي کيدے] (فتاوٰی رضويه ج14، ص703)

(8) شريعت د حُضُورِ اقدس سَيِّدِ عالَم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اقوال دي، معرفت د حُضُور (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) افعال دي او حقيقت د حُضُور (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) احوال او معرفت دے، د حُضُور (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) علوم بے مِثاله دي. (فتاوٰی رضويه ج21، ص460)

(9) د مسلمان په زړه کښې د حُضُورِ اقدس صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وسیله نیول پرته ده، د مسلمان یوه دُعا د وسیلے نه خالي نه وي اګرچې څینې وخت په ژبه اونه وائي.

(فتاوٰی رضویه ج21، ص194)

(10) نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلکه ټول انبياء و اولياء په ياد کښې د "**خدائ ياد**" دے چې د هغوئي ياد دے نو په دې وجه هغوئي (عَلَيْهِمُ السَّلَام) د الله انبياء دي، او دا د الله اولياء دي. [يعني د الله د انبياؤ او اولياؤ ذِکر کول د الله ذِکر دے]　　(فتاوٰی رضویه ج26، ص529)

## د مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تبرکات

(11) د نبي کريم (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د آثار و تبرکاتو مبارکو تعظيم کول په مسلمان باندې فرضِ عظيم دي.　　(فتاوٰی رضویه ج21، ص414)

(12) تبرکات شريف هم د الله د نښو نه بشکلې محبوبې نښې دي، د دې په ذريعه د دُنيا ذليل حقير مال حاصلوونکې د دُنيا په بدله کښې دين خرڅوونکې دے.

(فتاوٰی رضویه ج21، ص417)

(13) په ټول اُمَّت باندې د رسولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حق دے چې کله د حُضُورِ پُرنور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تبرکاتو مبارکو نه څه څيز اووينې يا هغه څيز اووينې کوم چې د حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تبرکاتو کښې په څه څيز دلالت کوي نو هغه وخت دِ په ډير ادب و تعظيم سره د حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تَصَوُّر اوکړي او د درود و سلام کثرت دِ اوکړي.　　(فتاوٰی رضویه ج21، ص422)

## فیضانِ انبیاء و اولیائے کرام (عَلَيۡهِمُ السَّلام و عَلَيۡهِمُ الرَّحۡمَه)

(14) په عالَم کښې د انبیاء عَلَيۡهِمُ السَّلام او اولیاء عَلَيۡهِمُ الرَّحۡمَه تَصَرُّف (یعني اختیار) په حیاتِ دُنیوي (یعني جسماني ژوند) کښې او د وصال [یعني وفات] نه پس د الله په عطا سره جاري دے او د قیامته پورې به د هغوئي دریائے فیض (یعني نورو ته د فائدې رسولو فیضان) جاري وي. (فتاوٰی رضویه ج29، ص616)

(15) د الله محبوب بندګانو خوا له تلل او د وفات نه پس د هغوئي قبرونو له تلل دواړه برابر دي څنګه چې به امام شافعی رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د امام ابوحنیفه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د مزار مبارك سره [تَعَلُّق] ساتلو. (فتاوٰی رضویه ج7، ص607)

[یعني امام شافعی رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ته به چې کله څه مشکل پیښ شو نو د امامِ اعظم ابوحنیفه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه مزار مبارك ته به ئې تشریف یوړلو، هلته به ئې دوه رکعته نفل ادا کړه او دُعا به ئې اوغوښتله نو مشکل به ئې حل شو، دا د امام شافعي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه معمول وو]

(16) محبوبانِ خُدا (یعني الله والا) آیۀ رحمت (یعني د رحمت نښې) دي، هغوئی خپل نومونه اخستلو والا خپلوي او په هغوئي باندې د رحمت نظر ساتي. (فتاوٰی رضویه ج21،ص508)

[یعني چې څوك د الله د نیك بندګانو سره خپل تَعَلُّق ساتي او د زړه مینه ورسره لري، دا نیك بندګان په هغوئي د رحمت نظر ساتي]

(17) مشائخِ کرام په دنیا و دِین، ځنکدن او قبر و حشر کښې د خپلو مریدانو امداد کوي. (فتاوٰی رضویه ج21،ص464)

(18) برکت والؤ طرف ته چې د کوم خیز نسبت اوشي په هغې کښې برکت راځي.

(فتاوٰی رضویه ج9، ص614)

## د صحابۂ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان نومونه

(19) په صحابۂ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان کښې د شلو نه زياتو نوم "**حَكَم**" دے، تقريباً د لسو نوم "**حَكِيم**"، او د شپيتؤ نه زيات "**خَالِد**" او د شپږ شلو (120) نه زيات "**مَالِك**" دے.

(فتاوٰی رضویه ج21، ص359)

## فيضانِ علم و عُلماء

(20) دا لفظ چې "**مولايان خلق څه پيژني؟**" د دې نه خاماخا د علماؤ سپکاوالې ظاهريږي او د علمائے دِين سپکاوالے کفر دے. (فتاوٰی رضویه ج14، ص244)

(21) عالِمِ دين ته، چې د دوئي علم طرف ته د دغي (ښار) د خلقو حاجت دے، هغه له [د هغه ځائ نه] هجرت کول ناجائز دي، هجرت خو لا لرې خبره ده، هغه ته (علماء) د اوکړېد سفر کولو اجازت هم نه ورکوي. (فتاوٰی رضویه ج21، ص282)

(22) د علمائے شريعت حاجت هر مسلمان ته هر وخت دے او په طريقت کښې قدم اېښودونکي ته نور هم زيات دے. (فتاوٰی رضویه ج21، ص535)

(23) عام خلق هيڅ کله د کتابونو نه احکام نه شي را ويستلے. ډيرې غلطۍ به اوکړي او په څه به پوهه نه شي، په دې وجه دا سلسله مقرر ده چې عوام دِ نن صبا د اهلِ عِلم لمَن اونيسي. (فتاوٰی رضویه ج21، ص462)

[يعني خپل تَعَلُّق دِ د علمائے اهلِ سُنَّت سره مضبوط ساتي او په هره مُعامَله کښې دِ د علماء نه رهنمائي اخلي يو کار دِ هم بغير د علماء د رهنمائي نه نه کوي کامياب به اوسي]

(24) د جاهلانو نه فتوی اخستل حرام دي. (فتاوٰی رضويه ج12، ص426)

## د شريعت پابندي

(25) کوم کس چې ظاهري طور د شريعت د احکامو پابند نه وي هغه په باطن کښې هم د الله پاك سره اِخلاص نه ساتي. (فتاوٰی رضويه ج21، ص541)

(26) شريعت صرف هغه "**لاره**" ده چې د دې آخري حد "**الله**" دے او د څه په ذريعه چې الله ته رسيدل دي، د دې نه بغير چې انسان په کومه لار روان شي د الله د لارې نه به لرې شي. (فتاوٰی رضويه ج29، ص388)

(27) دُنيا تيريدونکې ده، دلته احکامِ شرع (يعني د شريعت مقرر شوي سزاګانے) جاري نه کيدو باندې مه خوشحاليږئ، يوه ورځ د انصاف راتلونکې ده، په هغې کښې به د بشکرورې چيلۍ نه د بے بشکرو چيلۍ حساب اخستې کيږي.
(فتاوٰی رضويه ج16، ص310)

(28) د ناجائزه خبرې نه که يو بدمذهبه يا کافِر منع کړي نو هغې ته جائزه نه شي وئيلے. (فتاوٰی رضويه ج21، ص154)

[**وضاحت**: کومه خبره چې ناجائزه وي هغه ناجائزه ده اګرچې يو بدمذهبه يا کافر د هغې نه خلق منع کړي]

(29) د کومې خبرې منع چې په قرآن و حديث کښې نه وي نو د هغې نه منع کولو والا (کَنې) ځپله حاکم او شارع (يعنې صاحِبِ شريعت) جوړيدل غواړي.

(فتاوٰی رضویه ج11، ص405)

(30) شريعت په شعر اوغير شعر باندې دليل دے، شعر په شريعت باندې دليل نه شي کيدے. (فتاوٰی رضویه ج21، ص118)

(31) د مور و پلار تابعداري کول په جائزو خبرو کښې فرض ده اګرچې هغوئي (يعنې مور و پلار) ځپله د غټو ګناهونو مرتکب وي. (فتاوٰی رضویه ج21، ص157)

(32) څنګه چې زنانه اکثر د خاوند تسخير کول (يعنې په خپله قابو کښې راويستل) غواړي چې خاوند دِ زما د وينا شي، چې مونږ څه وايو هغه کوي، دا حرام دي. يا دا غواړي چې د خپلې مور، خور نه جدا شي يا هغوئي ته څه نه ورکوي مونږ ته دِ راکوي، دا ټول مردود [يعنې رد کړے شوي] خواهشات دي. (ایضًا ج26، ص607 مُلتقطا و بتقدم و تاخر)

(33) جِن [يعنې پيريان] د غيب نه بالکل جاهل دي، د هغوئي نه د راروانو خبرو تپوس کول عقلاً بے ووقوفي ده او شرعاً حرام دي او د هغوئي د غيب دانئ (يعنې پيريانو ته د غيبو علم شته دے دا) عقيده لرل خو کفر دے. (فتاوٰی افریقه، ص178)

(34) د نسب په وجه خپل ځان لوئي ګنړل، تکبر کول جائز نه دي.

(فتاوٰی رضویه ج23، ص255)

(35) حرام خوړل هيڅ کله جائز نه دي، کوم وخت چې جائز وي هغه وخت هغه حرام نه پاتي کيږي. (فتاوٰی رضویه ج21، ص225)

(36) کوم څیز ته چې خدا او رسول ښه اووائي، هغه ښه دے، او کوم ته چې بد اووائي هغه بد دے، او د کوم څیز نه چې سُکوت (یعنې خاموشي) اوفرمائي یعنې په شریعت کښې نه د هغې ښه والے ئې، نه بد والے، هغه په اباحتِ اصلیه پاتې کیږي چې د دې په کولو یا نه کولو کښې نه ثواب شته نه سزا. (فتاوٰی رضویه ج23، ص320)

(37) یو کس داسې مقام ته نه شي رسیدے چې د هغه نه لمُونځ، روژه وغیره احکامِ شرعیه ساقِط (یعنې مُعاف) شي تر څو پورې چې ئې عقل باقي وي. (ایضاً ج14، ص409)

(38) د کوم کس چې عقل او هِمَّت سلامت او باقي وي قصداً لمُونځ یا روژه پریږدي هیڅ کله وَلِـيُّ الله نه دے بلکه وَلِـيُّ الشَّیطان (یعنې د شیطان دوست) دے.

(فتاوٰی رضویه ج14، ص409)

(39) زمونږ شریعت بِحَمْدِ اللهِ ابدي (یعنې همیشه پاتې کیدونکے) دے، کوم قواعد چې د دې نه مخکښې وو تر قیامته پورې به وي، مَعاذَ الله د زید عَمْرو قانون خو نه دے چې په دریم کال بدل شي. (فتاوٰی رضویه ج26، ص540)

(40) د مسلمانیدو سره د دواړو جهانونو عِزَّت حاصلیږي. (فتاوٰی رضویه ج11، ص719)

(41) کوم کس چې د حدیث مُنکِر (یعنې انکار کوونکے) دے هغه د نبـي صَلَّى الله تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُنکر دے او کوم چې د نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُنکِر دے هغه د قرآن مُنکِر دے او کوم چې د قرآن مُنکِر دے هغه د الله واحد قَهَّار مُنکِر دے.

(فتاوٰی رضویه ج14، ص312)

(42) په ژبه وائي چې آو مونږ ته د الله پاك او د رسول صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبّت و عظمت د ټولو نه زيات دے خو عملي كارونه ئې په ازميښت كښې اچوي چې ځوك په دې دعوٰی كښې دروغژن دے او ځوك رښتيني دے. (فتاوٰی رضويه ج21، ص177)

## د مرګ تياري

(43) انسان هر وخت د مرګ په قبضه كښې دے، مَدقُوق (يعني مريض) ښه كيږي او هغه كس كوم چې د هغه په تيمار دارئ (يعني د بيمارئ په پوښتنه) كښې مصروف وي هغه [صحت مند كس] د هغه نه مخكښې لاړ [يعني وفات] شي. (فتاوٰی رضويه ج9، ص81)

## د مسلمانانو ورونړو سره خير خواهي

(44) بِرادرانِ اسلام (يعني مسلمانانو ورونړو) ته د احكامِ اسلام اِطلاع [يعني خبر] وركول "خير خواهي" ده او د مسلمانانو خيرخواهي د هر مسلمان حق دے.

(فتاوٰی رضويه ج16، ص243)

(45) حُقُوقُ العباد چې څومره دي، كوم چې د ادا كولو دي (انسان دِ هغه) ادا كړي، كوم چې د مُعافئ غوښتلو دي، مُعافي دِ اوغواړي او په دې كښې اصلاً (يعني هيڅ كله) تاخير (يعني ناوخته كول) مه كوئ چې دا په شهادت [يعني ګوهي وركولو] سره هم نه مُعاف كيږي. (فتاوٰی رضويه ج9، ص82)

(46) چې كله وخت د خلقو د اوده كيدو وي يا څه خلق لمُونځ ادا كوي نو ذِكر كوئ څنګه چې غواړئ خو په دومره آواز چې هغوئي ته تكليف نه وي. (ايضًا ج23، ص179)

(47) په مُعافـی غوښتلو کښې چې خومره عاجزي کول در پيښ شي خپله بے عِزّتـي ئې مه ګڼړئ، په دې کښې ذِلّت (يعنې بے عِزّتـی) نشته. (فتاوٰی رضويه ج9، ص82)

(48) مسلمانانو ته دِ د الله د رضا د پاره تعويذات و اعمال ورکړے شي، د دُنيوي نفعې طمع (يعنې لالچ) دِ نه وي. (فتاوٰی رضويه ج26، ص608)

(49) مسلمانانو ته نفع رَسَوَلو سره د الله پاك رِضا و رحمت نصيب کيږي او د هغه رحمت د دواړو جهانونو کار جوړوي. (فتاوٰی رضويه ج9، ص621)

(50) ايصالِ ثواب چې څنګه په عذاب منع کولو يا عذاب اوچتولو کښې د الله په حکم کار کوي، دغه شان په درجاتو اوچتولو او نيکو زياتولو کښې هم کار کوي.

(فتاوٰی رضويه ج9، ص607)

## باطنـي بيمارياني

(51) که خپله د دروغو ستائنه خوښوي چې خلق د دې ستائنې په وجه د هغه تعريف اوکړي کوم چې په هغه کښې نشته نو بيا خو صريح حرامِ قطعي ده.

(فتاوٰی رضويه ج21، ص597)

[يعنې په چا کښې يوه خوبي نه وي او هغه دا خوښوي چې ما دِ خلق د دروغو په دې خوبۍ يادوي او زما فضائل دِ بيانوي داسې کول خو حرام دي]

(52) خپل تعريف خوښول غالباً بد عادت دے او د دې انجام خطرناك دے. (فتاوٰی رضويه ج21، ص596 ملتقطاً) [خپل تعريف خوښول په حُبِّ جاه کښې راځي او دا ګناه ده]

(53) باطني نجاست [یعني د بدن دننه ناپاکي] د ظاهري نجاست نه کروړها درجے بدتر دے، ظاهري نجاست په اوبو پاك کيږي، او باطني نجاست په کروړونو سمندرونو سره نه شي پاك کيدے ترڅو پورې چې ئې په رښتيني زړه اِيمان نه وي را وړے.

(فتاوٰی رضويه ج14، ص406)

(54) چا چې خپل ځان رښتيني اوګڼړلو هغه د دروغژن تصديق اوکړو او ځپله به د دې مشاهَده هم اوکړي. (فتاوٰی رضويه ج10، ص698)

(55) عقل، نقل او تجربه ټول ګواه دي چې د نفسِ اَمَّاره رسئ څومره را ټينګه کړئ را غونډيږي او چې څومره ئې پريږ دئ زياتي ښپې خوروي. (فتاوٰی رضويه ج12، ص469)

[مطلب ئې دا دے چې نفس څومره په قابو کښې ساتئ دا به را غونډ وي او چې څومره ئې خوشحاله ساتئ دومره به سرکشه کيږي]

## د شيطان دوکے

(56) الله پاك دِې پناه راکړي د ابليس لعين د مکرو فريب نه، د ټولو نه سخت مکر دا دے چې په انسان باندې د حَسَنَات (یعني د نيکو) په دوکه کښې سَيِّئَات (یعني ګناهونه) کوي او شهدو په بهَانه پرې زَهر خوري وَالْعِيَاذُ بِاللهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْن.

(فتاوٰی رضويه ج21، ص426)

(57) بےعلمه مُجاهده (یعني د علمِ دِين نه بغير عبادت و رياضت) کوونکے [عابد] شيطان په خپلو ګوتو ګډَوي، په خُله کښې ورته غوړندے او پوزه کښې ورته پيزوان

اچوي، چرته ئي چې غوارې رانښکاريږي ئي ﴿وَ هُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا﴾ (پ 16، الكهف: 104) مفهوم ترجمه كنزُالايمان: او هغه په خپل زړه كښې خيال كوي چې مونږه ښه كار كوو.

(فتاوٰی رضويه ج21، ص528)

(58) څوك چې شيطان لرې ګڼړي، شيطان هغه ته ډير نِزدې ئې.

(فتاوٰی رضويه ج23، ص686)

(59) په چا چې د شيطان وسوسې پېښې ئې، هغه انسان ته په شر او خير كښې شك كيږي [يعنې دا ورته نه معلوميږي چې نيكي كوي يا ګناه كوي] او شيطان هغه د حَسَنَاتو (يعنې نيكو) نه سَيِّئَاتو (يعنې ګناهونو) طرف ته بوځي او د دې خبرې نه باعمله عُلماء خبريدے شي.

(فتاوٰی رضويه ج10، ص685)

## د سحر لمُونځ د امامتئ سره د موندلو نُسخه

(60) د اوده كيدو په وخت د الله پاك نه د جمعې لمُونځ كولو دُعا اوكړئ او په هغې باندې رښتينې بروسه اوكړئ، مولٰی كريم چې كله ستا ښه نِيَّت او رښتينې اراده اووينې ضرور به ستا مدد اوكړي.

(فتاوٰی رضويه ج7، ص90)

## مُختلف ارشاداتِ رضا

(61) نن صبا اكثر خلق د خپلې لور د واده كولو د پاره سوال كوي او د هغې مقصد هندوانو مُرَوَّجه رسمونه پورا كول وي، حالانكه هغه رسمونه په اصل كښې حاجتِ شرعيه نه دي نو د هغې د پاره سُوال كول حلال كيدے نه شي.

(فضائلِ دُعا، ص270)

(62) نکاح شیشه ده او طلاق کاڼړے دے، په شیشه باندې په کاڼړي غوزار اوکړې که په خوشحالۍ وي یا په زبردستۍ، یا ېځپله د لاس نه [کاڼړے] خلاص شي نو په هرې طریقې سره شیشه ماتیږي. (فتاوٰی رضویه ج12، ص385)

[مطلب ئې دا دے که په هره طریقه طلاق ورکړي طلاق به واقع شي دا خبره بیا معتبر نه ده چې ما خو حسې خندل، ټوقه مې کوله یا مې د خُلې نه بے اختیاره د طلاق لفظ اووتلو، په هر حالت کښې به طلاق واقع شي یعنې په لفظِ "طلاق" وئیلو سره طلاق واقع کیږي.]

(63) د قبرونو والؤ د اوریدلو طاقت دومره تیز صفا او مضبوط دے چې د بوټو تسبیح اکثر ژوندي خلق نه اوري هغه قبرونو والا بغیر د څه تکلیف نه اوري او د هغې نه راحت حاصلوي. (فتاوٰی رضویه ج9، ص760)

(64) سُنَّت دي چې کوم ځائ د انسان نه څه خطا اوشي هغه دِ د هغه ځائ نه په ډده شي او نیك عمل دِ اوکړي. (فتاوٰی رضویه ج7، ص609)

(65) کوم چې تندرست وي، د بدن اندامونه ئې صحیح وي، نوکري خواه مزدوري اګرچې وړوکې ټوکرۍ وړلو په ذریعه رزق ګټلے شي، هغه له سُوال کول حرام دي.

(فتاوٰی رضویه ج21، ص416)

(66) پریشان نظري (بے ضرورته اخوا دیخوا کتل) او فضول ګرځیدل د محرومۍ سبب دے. (فتاوٰی رضویه ج21، ص475)

[یعنې په فضول کارونو کښې خپل وخت ضائع کول د الله پاك د رحمت نه د محرومۍ سبب جوړیدے شي.]

(67) ډېر دوکه باز خلق د خپل ځان د حفاظت او مسلمانانو له دوکه ورکولو د پاره زباني توبه کوي او زړه ئې د فساد نه ډك وي. (فتاوٰی رضویه ج21، ص146)

(68) په حقیقت کښې د دوستئ حق دا دے چې په غلطئ باندې خبرداره ورکړے شي. (فتاوٰی رضویه ج16، ص371)

(69) ډېر ځله د تجربه کار کم علمو خلقو رائے په یوه انتظامي مُعامَله کښې د ناتجربه کار علم والا د رائے نه زیاته دُرُسته کیدے شي. (فتاوٰی رضویه ج16، ص128)

[یعني د تجربه کار کم علمه رائے د ناتجربه کار علم والا د رائےنه بهتر کیدے شي]

(70) مور و پلار که ګناه کوي نو هغوئي ته دِ په نرمئ او ادب عرض اوکړي که اومني بهتر ده ګني سختي نه شي کولے بلکه په غیر موجودګئ کښې دِ د هغوئي د پاره دُعا کوي. (فتاوٰی رضویه ج21، ص157)

(71) کافِر "رازدار" جوړول مطلقًا منع دي اګرچې په دُنیاوي کارونو کښې وي، هغه [کافر] به هیڅ کله په قدرت لرلو زمونږ په بدخواهئ کښې کمے اونکړي.
(فتاوٰی رضویه، ج21، ص233)

(72) د بے حیائې د خبرے نه همیشه ځان بچ ساتل پکار دي. (ایضًا، ج21، ص294)

(73) نیاز [یعني فاتحه] په داسې طعام وئیل بهتر دي چې د هغې څه حِصَّه غوزار نه کړے شي، لکه زَردَه، حلوا یا سپیني خوږکیدلې وریژې یا هغه پلاؤ چې د هغې نه هډوکي لرې کړے شوي وي. (فتاوٰی رضویه ج23، ص320)

(74) خپل ځان او خپلو دوستانو او د هغوئي اولاد وغيره ته ښيرې مه کوئ، معلومه نه ده چې د قبليدو وخت وي او مصيبت راتلو نه پس بيا پښيمانه ئې. (فضائل دُعا، ص212)

(75) بچي ته د پاکې ګټې رزق ورکړئ چې ناپاك مال ناپاك عادتونه پيدا کوي. (فتاوٰی رضويه ج24، ص453)

(76) د مور و پلار له طرفه د مرګ نه پس قرباني کول لوئ اجر دے د ده (يعني قرباني کوونکي) د پاره هم او د ده د مور و پلار د پاره هم. (فتاوٰی رضويه ج20، ص597)

(77) ډوډئ په کيڼ (يعني ګڅ) لاس کښې اخستل او په ښي لاس ترې نوړئ [يعني لقمه] ماتول د تکبر ختمولو د پاره دي. (فتاوٰی رضويه ج21، ص669)

(78) عقلمند او سعادت مند انسان که د اُستاذ نه [په ترقۍ کښې] وړاندې لاړ شي نو دا [ترقي] هغه د اُستاذ فيض او د هغوئي برکت ګڼړي او د مخکښې نه هم زيات د اُستاذ د ښپو خاورې په سر مږي. (فتاوٰی رضويه ج24، ص424)

(79) بے درده ته د بل مصيبت نه معلوميږي. (فتاوٰی رضويه ج16، ص310)

(80) تر څو پورې چې ممکن وي د مسلمانانو د عادت مُخالِف کيدلو نه بچ اوسئ. (فتاوٰی رضويه ج16، ص299)

(81) د پيريانو سره د خبرو کولو خواهش او د هغوئي د صُحبَت تَمَنَّا کولو کښې څه خير نشته، د ټولو نه کم نقصان ئې دا دے چې انسان مُتَکَبِّر کيږي. [يعني په انسان کښې لوئي راځي] (فتاوٰی رضويه ج21، ص606)

(82) په غلطۍ مُعاف کولو کښې کله کله تاخیر هم مصلحت وي. (ایضًا ج21، ص606)

[یعني په مُعاف کولو کښې ځینې وخت د موقع په مناسبت سره ناوخته کول د صلح سبب ګرځي]

(83) (د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) عادتِ کریمه په زمکه دستر خوان خوروړل او طعام تناول کول وو او هم دا افضل دي. (فتاوٰی رضویه ج21، ص629)

(84) ولایت کسبي (یعني په کوشش سره حاصلیدونکے) نه دے صرف عطائي (یعني د الله پاك په عطا سره نصیب کیدونکے) دے. (فتاوٰی رضویه ج21، ص606)

(85) په خلیفه او وارث کښې فرق ښکاره دے چې د انسان ټول اولاد د هغه وارثان دي خو د جانشین (یعني خلیفه) کیدو قابلیت په هر یو کښې نه وي. (فتاوٰی رضویه ج21، ص532)

(86) چې کله ژوند وي نو (مسلمان له پکار دي چې) د ویرې آیاتونو او احادیثو ترجمې اکثر اوري او ګوري او چې کله د مرګ وخت راشي، د (نورو خلقو) نه دِ د رحمت آیاتونه او احادیث د ترجمې سره واوري چې اوپیژني د چا خوا ته روان یم چې د خپل ربّ په بارګاه کښې د نیك ګمان سره [په ورځ د قیامت] راپاخي. (فتاوٰی رضویه ج9، ص82)

(87) په ټولو کښې وړومبې دا لقب (قاضِیُ القُضاة) د امام ابویوسف شوے وو.

(فتاوٰی رضویه ج21، ص352تا353 مُلَخَّصاً)

(88) د تیر شوي زمانے نیك بندګانو حالت به په جنازه کښې دا کیدلو چې نا اشنا کس ته به نه معلومیدل چې په دوئي کښې مړي والا خوك دے او باقي ناست خلق خوك دي،

تول به یو شان غمژن او پریشانه ښکاریدل او اوس حال دا دے چې خلق په جنازه کښې دُنیاوي خبرو کښې مشغوله وي، د مرګ نه هډو عبرت نه اخلي، د دوئي زړونه د دې [مړي] نه غافله دي چې په مړي څه تیریږي! (فتاوٰی رضویه ج9، ص145)

(89) شراب حرام دي او د ټولو نجاستونو ګندګئ جرړه ده، د دې څښونکي ته به په دوزخ کښې د دوزخیانو خوټکیدلي وینه او نَوُونه ورکړے کیږي. (فتاوٰی رضویه ج23، ص182)

(90) سُنّي مسلمان که په چا ظالم نه دے نو هغه ته ښیرې کول نه دي پکار بلکه د هدایت دُعا دِ اوکړے شي چې کومه ګناه کوي پریږدي ئې. (فتاوٰی رضویه ج23، ص320)

(91) (بیلمَانځه) داسې مسلمان دے لکه د تصویر اَس، چې شکل ئې د اَس دے او کار ئې څه نشته. (ایضًا، ص99) [یعنې داسې مسلمان د بے ساه اَس په شان دے، څه فائده ئې نشته]

(92) جمات جوړول خیرِ کثیر (یعنې د ډیر زیات خیر سبب) دے خاص طور که هلته د جمات ضرورت وي نو د دې د فضیلت حد نشته. (فتاوٰی رضویه ج23، ص396)

(93) د قرآنِ عظیم مطالِب (یعنې معاني) پیژندل بیشکه لوئ مقصد دے خو د ډیر او کافي علم نه بغیر ترجمه کتلو باندې ځان پوهه کول ممکن نه دي بلکه د دې د فائدے نه د دې نقصان ډیر زیات دے تر څو پورې چې د یو ماهر کامل سُنّي دین دار عالِم نه اونه لولي. (فتاوٰی رضویه ج23، ص382)

(94) که د عاجزئ او په الله باندې بروسه ساتلو په مقصد د برګي مریض سره طعام اوخوري نو ثواب به اوموي. (فتاوٰی رضویه ج21، ص102)

(95) وظائف کوم چې په احادیثو کښې بیان شوي دي یا مشائخ کرامو د ذِکر په طور ښودلي دي هغه بے اوداسه هم لوستے شي او په اوداسه کښې لوستل بهتر دي.

(فتاوٰی رضویه ج23، ص399)

(96) د شیشې په آئین (یعني شیشه) کښې کتل منع نه دي، د بعضو عوامو خیال دے چې د دې سره په مخ باندې داغونه راځي، د دې څه ثبوت نشته، نه شرعاً، نه طِبًّا او نه تجربةً، (یعني دا خبره نه د شریعت نه ثابته ده، نه د ډاکټرانو نه او نه د تجربې نه) (ایضًا ج23، ص490)

(97) د بدې خبرې د پاره سفارش کول مثلاً په سفارش کولو ګناه کول بد سفارش دے، دا سفارش کولو والا ګنهګار دے اګرچې سفارش ئې اونه منل شي. (ایضًا ج23، ص407)

(98) انسان ته د پلاؤ پلیټ ورکړے شي او ورته اووئیل شي چې خاص د دې په مینځ کښې د رویـۍ همره ځائ کښې زَهر میلاؤ شوي دي، په ویره ویره به د هغې خواو شا نه اوخوري او د یوې رویـۍ په ځائ به د خلورو رویو ځائ پریږدي. کاش! داسې احتیاط کوم چې د خپل بدن په حفاظت کښې کوي د زړه په نګرانۍ کښې ئې هم کولے [نو ډیره بهتره به وه].

(فتاوٰی رضویه ج23، ص518)

(99) کوم [څیز] چې عام خلق منحوسه (یعني سپیره) ګڼړي د هغې نه بچ کیدل مناسب دي که حسبِ تقدیر (یعني د تقدیر په ټاکلي شوي وخت) هغه ته څه مصیبَت اورسي د هغه باطله عقیده به نوره مضبوطه شي چې اوګوره دا کار مې کړے وو د هغې دا انجام اوشو او ممکنه ده چې شیطان د هغه په زړه کښې هم وسوسه واچوي. (فتاوٰی رضویه ج23، ص267)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښارکښې کېدونکي **د دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیّتونو سره ټوله شپه تېروئ ❁ د سُنّتو د تربیّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د **"فِکرِ مَدِینه"** په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په ېکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** اِنْ شَآءَ اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په **"مَدَني انعاماتو"** عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار **"مَدَني قافِلو"** کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ







فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com